# ما ته پنځه شيان راکړل شوي دي چې له ما څخه مخکې هيچا ته نه وو ورکړل شوي

له جابر بن عبدالله رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «ما ته پنځه شيان راکړل شوي دي چې له ما څخه مخکې هيچا ته نه وو ورکړل شوي: ماته په وېره بريا راکړل شوې؛ زه چې کوم ځای ته ځم نو د يوې مياشتې د مزل په اندازه مې رعب هلته مخکې رسيدلی وي، او ټوله ځمکه زما لپاره جومات او پاک ځای ګرځېدلی، نو زما له امت څخه چې په هر چا د لمانځه وخت راغی نو لمونځ دې وکړي، او ماته غنيمت روا شوی چې زما نه مخکې هيچا ته نه و روا، او ماته شفاعت راکړل شوی او دا چې هر نبي به خاص خپل امت ته لېږل کېده او زه ټولو خلکو ته لېږل شوی يم».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې الله تعالی هغه ته پنځه ځانګړتياوې ورکړي دي چې له هغه وړاندې هېڅ نبي ته نه دي ورکړل شوي. لومړی دا چې: زه په وېرې سره بريالی شوی يم، داسې چې زما د دښمنانو په زړونو کې وېره لوېږي، که څه هم زما او د هغوی تر منځ د يوې مياشتې په اندازه واټن وي. دويم: زما لپاره ځمکه جومات ګرځول شوې ده، چېرته چې وو هلته لمونځ کوو، او دا چې خاوره پاکه ده کله چې اوبه نه وي (نو تيمم پرې کوو). دريم: موږ ته د جنګ غنيمتونه حلال ګرځول شوي، کوم چې مسلمانان له کفارو سره په جګړه کې تر لاسه کوي. څلورم: ما ته د قيامت په ورځ - د خلکو له وېرې څخه د خلاصون لپاره - تر ټولو ستر شفاعت راکړل شوی دی. پنځم: زه ټولو خلکو؛ انسانانو او پېريانو ته لېږل شوی يم، د پخوانيو پيغمبرانو پر خلاف چې هغوی به يوازې خپلو قومونو ته لېږل کېدل.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3503